# تر ځمکې لاندې اوبه لټوونکی

دیپلوم انجینېر اسدالله ملکزی

تر ځمکې لاندې د اوبو د رګونو پیدا کول د یو سیم په مرسته یوه د سلونو کلونو تجربه ده، کوم چې د ځمکې لاندی رواني اوبو (چې ورته د اوبو رګونه ویل کیږي) پیدا کول دي. د دې د لټولو وجه، چې ولې خلک دا کوی، دا د خلکو ساده او ارزانه لاره یا Methode چې ځاګانو یا کوهیانو کندل دي، دا د یو ټاکلي اعتمادي او تجربه لرونکي انسان په مرسته تر سره کیږي.

د دغې تجربې شاته اصلي وجه او منل عبارت دي له :

په مقناطیسي عکس العمل باندی اعتبار:

د دغې مفکورې پلویان باور لري، چې د ځمکې لاندې اوبو بهیر (جریان) د ځمکې مقناطیسي ساحې ته ورانی یا مزاحمت کوي. د اوبو لټونکې ( کوم چې د L په شکل سیم دی) باید دغې حساس بدلون (تغیر) سره عکس العمل ښکاره کړي او په حرکت راځي .



shutterstock.com · 2641704839

د اوبو د رګونو حسوونه :

ډېرو دا ډول لټونونو شودلې ده، چې د ځمکې لاندې اوبه په خاصو بهېدونکي رګونو کې بهیږي، کوم چې دا د وچې ځمکې څخه توپیر لري یا فرق کوي. دلته دغه سیمان که د L په شکل وي او یا د کنج لرونکی (V) ډوله وي نیغ په نیغه یا مستقیم پر دغې بهېدونکي انرژي یا لنده بل باندې عکس العمل ښکاره کوي .




احساساتي یا په شعوري ډول جذابیت :

یو نیم د ځمکې لاندې اوبه لټونکو د څېړنو له مخې داسې لیکي، چې دا سیم په لاس کې ونیول شي او د اوبو رګونو سر ته راشي، نو بیا دا دواړه سیمان یو پر بل لکه د صلیب په شان راشي او که دا کنج لرونکی سیم (V) په ډول وي، دا بیا د ځمکې خواته میلان کوي او دې سره لاسونه میږي میږي شي او یاد راښکلو احساس پیدا شي .




د ځاګانو یا کوهیانو عملي لټون :

کله چې د ځمکې پر سر وچه کې د درې یا څلورو خواوو څخه هغه ځای چې د اوبو رګ دی، وټاکل شو، بیا نو هلته څا یا کوهي کندل کیږي .

پوهنیز یا د علم له لحاظه د دا ډول لټون :

د پوهنیز یا علم له لحاظه دا ډول د ځمکې لاندې اوبو لټون کوم بنسټ نه لري :

پوهه یا علم (د جیو فیزیک – هایدرولوژي) په ګڼشمېر علمي څېړنو کې تائید کړي چې دځمکې لاندې د اوبو لټوونکي سره هیڅ ډول د اوبو رګونو پیدا کول امکان نه لري . د دغه لټوونکي خوځښت یا حرکت اکثراً روحي یا عصبي حرکتونو اغیزې دي چې غېر ارادي د عضلاتو حرکت ددې وجه ګرځي چې هغه کوم شي په لټه وي، سر ته رسیږي .

د احتمال له لارې د بري یا کامیابي برخه :

دځمکې لاندې اوبه لټونکي تل سیمه ایز کامیابه دي، دوی د پاره د ځمکې لاندې اوبه پورته ښکاري او ښه پراخه موجودیت لري، کوم چې دا نږدې یا تقریباًپه هر ځای کې امکان لري .

لنډه یا خلاصه دا چې :

د دا ډول سیم په واسطه د اوبو لټوونه د باور له مخې په انرژي لرونکي یاد ساده مادې میتود سره د اوبو پېدا کوونه ده، سره ددې چې دا د پوهې یا علم له لحاظه کوم اساس نه لري .

خو :

د هارورد د پوهنتون پخواني ریس جیمز کنانت لیکي:

” پوهه د سره ورته طرحو او تړلو ایډیاوو څخه ده، چې د ازمایښتونو او تجربو په اثر منل شوی وي او د ډېرو تجربو او ازمیښتونو په کولو سره لا هم پسی غني کیږي.“

نو زما په اند دا ډول د ځمکې لاندې د اوبو لټونه یوه پوهنیزه یا علمي اساس لري، ځکه دا ډول کړنې ډېر ازمایل او تجربه شوي دي . دا ډول ازمایښت ما خپله زما په حویلۍ کې تر سره کړی چې کامیابه شوی هم یم.


**www.af.dawatmedia24.com**

**زموږ انګلیسي ویبپاڼه:**

**Donate Here**